# كله چې اذان کوونکی: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي: نو ستاسو څخه دې يو اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «كله چې اذان کوونکی: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي: نو ستاسو څخه دې يو اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ، ووايي، بيا چې (اذان کوونکی) أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي، دا دې هم : أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي. بيا چې (اذان کوونکی) أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ووايی، نو دا دې هم : أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ووايي، بيا چې (اذان کوونکی) حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ ووايي او دې به: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووايي. بيا چې (اذان کوونکی) حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ووايي، دا به: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووايي، بيا چې مؤذن: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي، دا به هم: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي. بيا چې (اذان کوونکی) لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي، او دا د زړه نه: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، ووايي، نو جنت ته داخل شو».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

اذان خلكو ته د وخت د داخلېدلو په اړه خبر وركوي، او د آذان كلمې د ايماني عقيدې ټولګه ده. په دې حديث كې رسول الله صلى الله عليه وسلم د اذان د اورېدو پر مهال بيانوي چې اورېدونکی به د اذان کوونکي په څېر الفاظ ووايي، كله چې اذان کوونکی " الله أكبر" ووايي: نو اورېدنکی هم: " الله أكبر" وايي او همداسې وريسې، تر دې چې كله اذان کوونکی "حي على الصلاة" او "حي على الفلاح"، ووايي نو اورېدونکی به "لا حول ولا قوة إلا بالله" ووايي. او رسول الله صلى الله عليه وسلم دا هم بيان کړه چې چا له مؤذن سره د زړه له اخلاصه (د اذان کلمې) تكرار كړې، نو جنت ته به داخل شي. او د اذان د كلمو معنا (په لاندې ډول ده) "الله أكبر": يعنې دا چې هغه پاک ذات تر ټولو لوی، معزز او له هر شي څخه ستر دی. "أشهد أن لا إله إلا الله": يعنې له الله پرته پر حقه بل معبود نشته. "أشهد أن محمّدًا رسول الله": يعنې زه په خپله ژبه او زړه اعتراف كوم او شاهدي وركوم چې محمد د الله رسول دی، د الله لخوا راليږل شوی او اطاعت يې واجب دی. "حيَّ على الصَّلاة" يعنې لمانځه ته راشئ، او د اورېدونكي دا وينا "لا حول ولا قوَّة إلّا بالله"، دا معنا لري چې د اطاعت له موانعو څخه د خلاصون لپاره حيله او يا د كولو لپاره يې ځواک او قدرت نشته مګر د الله تعالى په توفيق سره. "حيَّ على الفلاح" يعنې د كامياب سبب ته راشئ، چې هغه جنت ګټل او له اور څخه ژغورل دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65086